کله چې الله - تعالی - جنت او اور (دوزخ) پیدا کړل، نو جبرائیل علیه السلام

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «کله چې الله - تعالی - جنت او اور (دوزخ) پیدا کړل، نو جبرائیل علیه السلام یې جنت ته ولیږه، او ویې ویل: ورته وګوره او هغه څه ته چې ما یې خاوندانو ته پکې چمتو کړي دي، نو ورته یې وکتل او بیرته راوګرځېده او ویې فرمایل: ستا په عزت مې دې قسم وي، هیڅوک به یې په اړه نه اوري مګر دا چې ورته به ننوځي. نو امر یې وکړ چې په سختو کارونو سره دې وپوښل شي، نو ویې فرمایل: ورشه او ورته وګوره او هغه څه ته چې ما یې د خاوندانو لپاره چمتو کړي دي، نو هغه ورته وکتل، ګوري چې په سختو کارونو سره پوښل شوی دی، نو ویې فرمایل: ستا په عزت مې دې قسم وي زه وویریدم چې هیڅوک به ورته داخل نه شي. ویې فرمایل: لاړ شه او اور ته وګوره او هغه څه ته چې ما یې د خاوندانو لپاره چمتو کړي دي. هغه ورته وکتل، ګوري چې یو د بل له پاسه سپریږي (یعنې د اور لمبې یو پر بل د پاسه کیږي) نو راوګرځېده او ویې ویل: زما دې ستا په عزت قسم وي چې هیڅوک به ورته داخل نه شي. نو امر یې وکړ او په شهوتونو وپوښل شو، نو ویې فرمایل: وګرځه او ورته وګوره. نو ورته یې وکتل؛ ګوري چې په شهوتونو سره پوښل شوی دی، نو راوګرځېده او ویې فرمایل: زما دې ستا په عزت قسم وي، یقینا زه وویریدم چې هیڅوک به تریې خلاص نه شي مګر دا چې ور داخل به شي».

[حسن] [أبو داود، الترمذي او النسائي روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې کله الله تعالی جنت او دوزخ پیدا کړل نو جبرائیل علیه السلام ته یې وویل: جنت ته لاړ شه او هغه ته وګوره، نو هغه لاړ او هغه ته یې وکتل او بیا بیرته راغی، جبریل وویل: اې ربه ستا په عزت مې دې قسم وي هیڅوک به یې په اړه نه اوري او نه د هغه څه په اړه چې په دې جنت کې له نعمتونو، عزتونو او ښېګڼو څخه دي مګر دا چې خوښ به ګڼي چې وردا‌خل شي او د هغه لپاره عمل وکړي. بیا الله تعالی جنت په سختیو او مشکلاتو سره وپوښه چې هغه د اوامرو پر ځای کول او له نواهیو څخه ځان ساتل دي، نو څوک چې جنت ته د ننوتلو اراده ولري باید له هغو سختیو څخه تېر شي. وروسته له هغه چې الله جل جلاله جنت په سختیو سره وپوښه، نو جبریل ته یې وفرمایل! لاړ شه او جنت ته وګوره، نو هغه لاړ او هغه ته یې وکتل، بیا راغی او ویې ویل: اې لاره کې د سختیو له امله داخل‌ربه، ستا په عزت مې دې قسم وي، زه ویره لرم چې هیڅوک به هغه ته د هغه په نشي. او کله چې الله تعالی اور پیدا کړ نو ویې ویل: اې جبرائیله! لاړ شه او هغه وګوره، نو هغه لاړ او ویې لیده، بیا راغی او جبرائیل علیه السلام وویل: اې ربه! ستا په جلال مې دې قسم وي چې هیڅوک به یې د هغه عذاب، ستونزو او ربړونو په اړه نه اوري مګر دا چې له ننوتلو څخه به یې کرکه وکړي او له اسبابو څخه به یې ځان وژغوري. بیا الله جل جلاله اور پټ کړ او د ورتګ لاره یې په شهوتونو او لذتونو سره وګرځوله ، بیا یې وویل: اې جبرائیل! ورشه او ورته وګوره، نو جبرائیل لاړ او ورته یې وکتل، بیا راغی او ویې ویيل: اې ربه! ستا په عزت مې دې قسم وي زه ووبریدم او اندیښنه راسره پیدا شوه چې د هغه شهوتونو او خوندونو له امله چې تریې چاپیره شوي دي، هیڅوک به تریې خلاصی ونه مومي؛

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65034